د بانکي څارنې لوی آمریت
آمریت عمومی نظارت بانکی

گڼه: ۱۳۶۴۰ - ۱۱۹۰۴
۱۲۸۹۴
۱۲۹۰۶

نېټه: ۱۴۰۲/۱۲/۳

د افغانستان بانک

---

بسم الله الرحمن الرحیم

ټولو قدرمنو مجوزو بانکونو ته!

السلام علیکم و رحمت الله وبرکاته و بعد:

موضوع: د مندرسو بانکنوټونو عمده ځانګړتیاوې

له ډېر درناوي وروسته؛

د دې اداري د ۱۴۷۶۷ ګڼې ۱۴۴۴/۱۱/۱۴ نېټې متحدالمال په تعقیب ټولو مجوزو بانکونو ته لیکل کیږي.

هغه بانکنوټونه چې لاندې ذکر شوې ځانګړتیاوې ولري، په مندرسو بانکنوټونو کې شمېرل کیږي:

۱. هغه بانکنوټونه چې ظاهري بڼه یې په بشپړه توګه بدله شوې وي.
۲. هغه بانکنوټونه چې یوه برخه یې قطع شوې وي.
۳. هغه بانکنوټونه چې زیات لیکل پرې شوي وي چې له امله یې د بانکنوټ ظاهري بڼه بدله شوې وي.
٤. هغه بانکنوټونه چې امنیتي نښې یې په بشپړه توګه له منځه تللي وي خو اصلیت یې د پیژندولو وړ وي.
۵. هغه بانکنوټونه چې د ډېرې کارونې له امله په بشپړ ډول زاړه (مړاوي) شوي وي او د نوټ شمیرنې په ماشینونو کې د شمیرلو وړ نه وي.
٦. هغه بانکوټونه چې ډېر زاړه شوي وي، ډیرې خیرې شوې برخې ولري او په ډېرو برخو یې سکاشتیپ لګېدلی وي او د نوټ شمیرنې په ماشینونو کې د شمیرلو وړ نه وي.

بناءً ټولو مجوزو بانکونو ته لارښوونه کیږي چې د پورته ذکر شوې موضوع په اړه اصولي کړنې ترسره کړي.

د افغانستان بانک ستاسو د لا بریاوو غوښتونکی دی.

په درنښت

نوراحمد آغا
د افغانستان بانک لومړی مرستیال

کاپي:

- د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو د څارنې لوی آمریت ته
- د دفتر ریاست د زونونو د همږغۍ قدرمن معاونیت ته
- د افغانستان د بانکونو قدرمنې ټولنې ته

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ ټیلفون: ۲۱۰۲۲۰۶/ فکس: ۲۱۰۰۳۰۵(۲۰)۰۰۹۳/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایت: af.